# سادات: د کاندیدانو د لومړني لېست د اعلام لپاره تیار یوو

د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وايي چې د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو د لومړني لېست د اعلام لپاره تخنیکي تیار یوو. د دغه کمېسیون یوه وياند ذبیح سادات ورځ، مابام ازادۍ راډیو ته وویل چې په دې اړه د کمېسیون د مشرانو د پرېکړې په تمه دی. دی وايي: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون تصمیم لري چې د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو لومړنی لېست جوړ کړي. په دې اړه ټولې تخنیکي چارې بشپړې شوې دي یوازې د مشرانو پرېکړې ته اړ یوو، چې د ولسمشرۍ ټاکنو د مهالوېش پر اساس پرون د سلواغې ۲۶مه موږ د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو لومړنی لېست جوړ کړو.» د ښاغلي سادات تر دې څرګندونو څو ساعته وړاندې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون یوې مرستیال ویاندې شیما علم سروش وویل چې د لېست شویو کسانو د تابعیت په اړه بشپړې ارزونې، بايې د دغه لومړني لېست اعلام له ځنډ سره مخامخ کړي. د انتخاباتو خپلواک کمېسیون ویلي چې د ولسمشرۍ انتخابات به د راتلونکي لمریز کال د چنګاښ په ۲۹مه کوي په دغو انتخاباتو کې د سیالۍ لپاره ۱۸ کسانو خپل نومونه ثبت کړي دي.

Ketabton.com

# ...مپ د افغان سولې لپاره خبرې ...وځ هلې ځلې او پر طالبانو فشار بللی

...مشر ... هغې ... به هم

حګره پای ته ورسېږي، خو د دوشنبې په ورځ د امریکا کانګرس په لوی اکثریت سره د ښاغلي ټرمپ هغه پلان

رد کړ، چې غواړي له دغو دوو هېوادونو بېرې وختو خپل ځواکونه وباسي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**